د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د زابل ولايت پوهنې رياست

د کيفيت د تضمين آمريت

د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو عمومي مديريت

# د زابل ولايت د عملياتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنۍ تشريحي راپور




د راپور ورکولو دوره: حمل ـ حوت کال ۱۴۰۴

## مطالبو نوملړ


د کړنو لنډیز ........ 7

د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ ........ 10

برنامه 1: اسلامي زده کړې ........ 10

1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال ........ 10

1.2 مدرس/ استاد/ښوونکی ........ 10

1.3 نصاب ........ 12

1.4 ښوونیزه ارزونه ........ 12

1.5 ښوونیز چاپیریال ........ 12

1.6 د ټولنې ګډون ........ 13

1.7 مدیریت ........ 13

برنامه 2: ښوونه او روزنه ........ 14

2.1 زده کووونکی ........ 14

2.2 ښوونکی ........ 17

2.3 نصاب ........ 19

2.4 ښوونیزه ارزونه ........ 20

2.5 روزنیز چاپیریال ........ 20

2.6 د ټولنې ګډون ........ 26

2.7 مدیریت ........ 27

برنامه 3: تضمین کیفیت ........ 29

۳.۱ مدیریت ........ 29

برنامه ۴: مالي او اداري ........ 32

4.1 طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال ........ 32

4.2 مدرس/استاد/ښوونکی ........ 32

4.3 نصاب ........ 32

4.4 ښونیزه ارزونه ........ 32

4.5 رونیز چاپیریال ........ 32

4.6 د ټولنې ګډون ........ 34

4.7 مدیریت ........ 35

5: پوهنې ریاست اړوند (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان و ...) ........ 36

5.1 طالب العلم/ حافظ/ زده‌کوونکی/ سواد زده کړو زده کړیال ........ 36

5.2 مدرس/استاد/ښوونکی ........ 36

5.3 نصاب ........ 36

5.4 ښوونیزه ارزونه ........................................................................................................ 36
5.5 روزنیزه ارزونه ........................................................................................................ 37
5.6 د ټولنې ګډون ........................................................................................................ 37
5.7 مدیریت ........................................................................................................ 37
غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........................................................................................................ 38
د پایلې او شننې لنډ جدول ........................................................................................................ 39
پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........................................................................................................ 42
مالي رپوټ تحلیل ........................................................................................................ 43
ملپاڼې ........................................................................................................ 44

| نوم او کورنی نوم | دنده | برېښنا لیک | گرځنده شمېره/ واټساف | لاسلیک |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| شریف الله( شریف) | د تضمین کیفیت آمر | Sharif.sharafat2015@gmail.com | 0700491318 | |
| مولوي محمد نسیم(نصیر) | د ښوونې او روزنې آمر | Nasimnasir2024@ gmail.com | 0748388082 | |
| عبدالوکیل(زابلی) | د منابع او اداري آمر | a.zabuly@yahoo.com | 0700002149 | |
| مولوي محمد امین(نعمان) | د اسلامي زده کړو آمر | برېښنا لیک نلري | 0706362213 | |
| احمد شاه( نظري) | د نظارت او ارزیابي عمومي مدیر | Ahmadsha900@ gmail.com | 0700900229 | |

د پوهنې رئیس تائیدي:

| نوم او تخلص | دنده | برېښنا لیک | گرځنده شمېره/ واټساف | لاسلیک |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| الحاج مولوي گل ولي(متقي) | د زابل ولایت د پوهنې رئیس | برېښنا لیک نلري | 0773296351 | |

## د زابل ولایت په هکله عمومي معلومات




د زابل ولایت د افغانستان په جنوب لوديځ کې دشمالي عرض البلد په (66) درجو د ختیځ طول البلد په (33) درجو (7) دقیقو کې د کابل کندهار په لویه لاره موقعیت لري.

دا ولایت ۴۵ کاله پخوا د زابل په خپلواک ولایت باندې نومول شوی دی چې 17478 کیلو متره مربع مساحت لري نفوس یې ۴۱۲۱۵۰ تنه دي چې له دې جملې څخه 209914 تنه یې نارینه او 202236 تنه یې ښځینه دي.

زابل ولایت د ختیځ لخوا د غزني ولایت ناوې ولسوالی، پکتیکا ولایت د تروه ولسوالی د ډیورنډ له کرښې سره سرحد لري د شمال لخوا د ارزگان له ولایت سره د لویدیځ لخوا د کندهار له ولایت سره او د جنوب لخوا د پاکستان هیواد سره سرحد لري.

د دې ولایت عمده زراعتي محصولات عبارت دي له: غنم ،جوار، وربشې او داسې نور.

میوې ئې: ختکي، هندوانې، بادام، انځر، انار، زردالو او داسې نورو میوو څخه عبارت دي.

ښوونه او روزنه: په دې ولایت کې ۱۴۰۳ کال د احصائیې له مخې ټولټال ۱۸۷ بابه ښوونیز مرکزونه شتون لري چې له دې جملې څخه 108 بابه ابتدائیه ، ۳۴ بابه متوسطه او 35 بابه لېسه ښوونځي دي. همدارنگه په ۱۴۰۴ مالي کال کې ټولټال ۹۷۹۷ تنه زده کوونکي نوي جذب شوي دي چې له دې جملې څخه ٦٢٨٩ تنه نارینه او 3058 تنه ښځینه زده کوونکي دي.

دعمومي زده کړو پروگرام ټولټال ٦٤٠٢٢ تنه زده کوونکي لري چې له دې جملې څخه ٤٩٦٠٥ تنه نارینه او١٤٤١٧ تنه ښځینه زده کوونکي دي.

د اسلامي زده کړو پروگرام اړوند ښوونیز مرکزونه:د اسلامي زده کړو پروگرام ټولټال 538 بابه ښوونیز مرکزونه لري چې له دې جملې څخه یو باب دارالعلوم،3 بابه دارالحفاظونه او 534 بابه مدرسې دي چې په یادو ښوونیزو مرکزونو کې ټولټال ۴۴۴۸۲ تنه طالب العلمان زده کړې کوي چې د یادو ارقامو له جملې څخه ۲۹۹۵۵ تنه نارینه او ۱۴۵۲۷ تنه ښځینه طالب العلمان دي.

# سریزه

## بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين و الصلوة و السلام على سيد المرسلين و على آله و اصحابه اجمعين. امابعد:

د زابل ولايت د ۱۴۰۴ کال عملياتي پلان د پوهنې وزارت د عملياتي پلان موخو ته د رسيدو په پار د عناصرو او لومړيتوبونو پر بنسټ جوړ شوی دی او د دې ولايت د مرکز، ولسواليو، کليو او بانډو په سطحه کې د پلي کېدو په حال کې دي، چې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه يې د راپور ورکولو مهال ويش سره سم په کمي او کېفي بڼه منظم مياشتني، دري مياشتني او کلني راپورونه چمتو او اړونه دی ادارو ته استول کېږي.

د عملياتي پلان د پرمختګ تشريحي راپور جوړولو يوازينۍ موخه د پلانونو د تطبيق او فعاليتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بيلا بيلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د اداري بيلا بيلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوت نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونو او اړوند چارو ته ښه والي ور وبخښي.

د زابل ولايت پوهنې رياست د فعاليتونو او لاسته راوړنو د راپورونو د لړد په دوام د عملياتي پلان د ۱۴۰۴ کال د کړنو د پرمختګ کلنی تشريحي راپور د عناصرو په رڼا کې چې پورته ذکر شوي دي چمتو او د حمل مياشتې څخه د دلو مياشتې تر پايه پورې د اعتبار وړ او د لاندې برخو درلودونکې دي.

۱ ـ د کړنو لنډيز برخه

۲ـ د عناصرو او لومړيتوبونو په اساس د فعاليتونو د تشريح برخه

۳ـ د غير پلاني فعاليتونو برخه

۴ـ تحيل او نتيجه گيرئ برخه

۵ـ د عمده ستونزو او وړانديز شويو حل لارو برخه

٦ـ مالي راپور برخه

۷ـ د معلوماتي او احصايوي ملپاڼو برخه

# د کړنو لنډیز

## ۱. طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال

- د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، د مرکز په شمول د ۱۲ ولسوالیو په کچه ۳۰۰۰ تنه طالب‌العلمان جذب او د زده‌کړو زمینه ورته برابره شوې ده.
- د خامسه او حفظ څانګو ۲۵۸ تنه فارغانو ته د فراغت اسناد په منظم ډول ویشل شوي دي .
- د ولایت په کچه، ۸۸ تنه د عالیه دورې علمای کرامو ته شهادتنامې چاپ او وېشل شوې دي.
- د مسلکي پراختیا د علمي غرو له خوا، په مرکز قلات او اړوندو ولسوالیو کې د ۱۴۱ شوراګانو د کړنو د ملاتړ او پیاوړتیا په موخه څارنه او ارزونه ترسره شوې ده.
- په مرکز قلات او ټولو ولسوالیو کې، ټولټال ۱۰،۲۵۳ تنه زده کوونکي په لومړي ټولګي کې جذب شوي او د زده‌کړو زمینه ورته مساعده شوې ده.
- د مسلکي پراختیا علمي غړو په واسطه په مرکز قلات، ارغنداب، ترنک و جلدک، خاک افغان، شملزائی، مېزانه، ترنک او جلدک، شاه جوی او نوبهار ولسوالیو کې د ۱۴۱ شوراګانو له کړنو څخه د ملاتړ په موخه څارنه ترسره شوې ده.
- د کوچیانو په لېسو کې، ټولټال ۲۲۸ تنه نوي زده کوونکي جذب شوي دي.
- د سواد زده‌کړې په کورسونو کې، ۲۵ تنه د شرایطو وړ کوچیان شامل شوي او د زده‌کړو زمینه ورته برابره شوې ده.
- په مرکز قلات او دوو ولسوالیو کې، د ۵۰۰ تنه نویو زده کوونکو صحي معاینات د اړوندو روغتیایي مرکزونو له خوا ترسره شوي دي.
- په مرکز قلات او شاه جوی ولسوالۍ کې، ۱۴،۷۳۰ تنه زده کوونکو ته د کولمو د چینجیو ضد ټابلیټونه په مؤثره توګه وېشل شوي دي.

## 2. مدرس/استاد/ښوونکی

- د اسلامي زده کړو آمریت اړوند، د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د یاد ولایت په کچه، ټولټال ۵۹۴ تنه مدرسین او استادان د تدریس بهیر څخه څارنه او ارزونه شوې ده.
- د مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا، د ۱۰ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ۱۹۲ بابه ښوونیزو مرکزونو څخه د اصولي صنفي دورې لپاره د وړ ښوونکو د ټاکلو په موخه لازمي لارښوونې ترسره شوې دي.
- د شاه‌جوی ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند، ۷ تنه سرښوونکو او مدیرانو ته د ظرفیت لوړونې په موخه روزنيزې غونډې او پروګرامونه ترسره شوي دي.
- د یاد ولایت په کچه، ټولټال ۳۱۷ تنه ښوونکي د رشتې سره سم د آزادې سیالۍ له لارې استخدام شوي دي.
- د عمومي زده کړو آمریت له لوري، په یاد ولایت کې ټولټال ۷۲۷ خالي بستونه په سیستم کې ثبت شوي دي.
- په مرکز قلات، نوبهار او شاه‌جوی ولسوالیو کې ٦۴۴ تنه ښوونکو ته د ظرفیت لوړونې په موخه روزنيز پروګرامونه ترسره شوي دي.
- په مرکز قلات، دایچوپان، شملزایي، خاک افغان، شنکۍ، سیوري، ترنک و جلدک، مېزانه، ارغنداب، نوبهار او شاه‌جوی ولسوالیو کې، له ۱۵۳ بابه ښوونیزو مرکزونو څخه د اصولي صنفي دورې د لارښود د تطبیق د باوري کېدو په موخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

## 3. نصاب

- د نشراتو ریاست له لوري، د زابل ولایت پوهنې ریاست ته د اسلامي زده کړو ۲۸،۴۰۰ جلده کتابونه او د عمومي زده کړو آمریت اړوند ۷۰،۳۰۰ جلده کتابونه سپارل شوي دي .
- د پوهنې ریاست په ګدام کې له شته کتابونو څخه، ۷۰،٦۴۲ جلده موجوده کتابونه د مرکز په شمول د ۱۰ بابه ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ښوونیزو مرکزونو ته په خپل وخت ویشل شوي دي.

## ۴. روزنيز چاپېریال

- د ښوونکو د روزنې او عمومي زده کړو آمریت له لوري، په مرکز قلات، شاه جوی، سیوري او ارغنداب ولسوالیو کې ۱۰ بابه لابراتوارونه تجهیز او اړتیاوې یې ارزول شوي دي.

- د ترنک او جلدک ولسوالۍ د پوهنې آمریتونو تر چتر لاندې، د مرکزي لیسې لابراتوار او په ارغنداب ولسوالۍ کې د سیدخېلو لیسې لابراتوار تجهیز شوی دی.
- په مرکز قلات، شاه جوی، مېزانه، سیوري، نوبهار، ترنک و جلدک، شملزايي او ارغنداب ولسواليو کې، ۲۰۸ بابه ټولګي تشخیص شوي چې تر اوسه ښوونکي نه لري.
- د مرکز قلات په شمول، په ۸ ولسواليو کې ۴۵ بابه بې سرپنا ټولګي پېژندل شوي دي چې تدریسي بهیر يې په آزاده فضا (تر شنه آسمان لاندې) جریان لري.
- د علمي غږو لخوا، په مرکز قلات، شاه جوی، شنکۍ، سیوري، ترنک و جلدک، ارغنداب او نوبهار ولسواليو کې د ۹۱ بابه ښوونځیو څخه د ښوونیز کال له پیل څخه مخکې د درسي کتابونو او موادو د ویش بهیر ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.
- د شني ساحې د رامنځته کولو په موخه، د پوهنې ریاست په مرکزي هسته او ۷ بابه ښوونځیو کې ۳۱۵ مثمر او غیر مثمر نهالونه کښینول شوي دي.
- د مرکز قلات د پوهنې آمریت اړوند، په ۲۲ بابه ښوونځیو کې د پاکوالي په موخه د زده کوونکو په واسطه د حشر کارونه په تکراري ډول ترسره شوي دي.
- په مرکز قلات او (شاه جوی، شنکۍ، مېزانه، خاک افغان، دایچوپان او اطغر) ولسواليو کې، د رسمي ښوونکو په مرسته ۵٦ بابه کورسونه رامنځته شوي او همدارنګه ۴ بابه کورسونه د تفاهم‌نامو پر اساس جوړ شوي دي.

### ۵. د ټولني ګډون

- د عمومي زده کړو آمریت له لوري، د مرکز قلات د پوهنې آمریت اړوند په ترنک او چونۍ لیسو کې د ترافیک ټیمونه جوړ شوي دي.
- په مرکز قلات کې د ۷ بابه ښوونځیو د لابراتوارونو څخه حمایوي څارنه ترسره شوې ده.
- د مرکز قلات په شمول، په ۹ ولسواليو کې، ۱۲۲ بابه ښوونځې او ۱۴ بابه د سواد زده کړې کورسونو څخه حمایوي/ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.
- د عمومي زده کړو آمریت له لوري، د سواد زده کړې ۹۰ تنه زده کوونکي په مادي او معنوي ډالیو ستایل شوي دي.

### ٦. مدیریت

- د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري، په مرکز قلات، شاه جوی، شنکۍ، سیوري، مېزانه، نوبهار، ترنک و جلدک، شملزايي او ارغنداب ولسواليو کې د ۷۳ تنو سرښوونکو او ۱۱۱ تنو مدیرانو د مسلکي کاري کړنو له بهیر څخه په تکراري ډول لیدنه ترسره شوې ده.
- د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري، په مرکز قلات، مېزانه، خاک افغان، شاه جوی، شنکۍ، سیوري، مېزانه، نوبهار، ترنک و جلدک، شملزايي او ارغنداب ولسواليو کې د رشتې مطابق ۴۳۰ تنه ښوونکو له درسونو څخه لیدنه ترسره شوې ده.
- د ارتقاء ظرفیت مدیریت له لوري، د پوهنې ریاست اړوند ٦۲ کارمندانو ته د ښوونیزو اړتیاوو پر اساس روزنیز پروګرام په لاره واچول شو.
- د مالي او اداري آمریت اړوند، اداري کارکوونکو چارو مدیریت له لوري د زابل ولایت په کچه ۲۱ اداري بستونه خالي تثبیت شوي دي.
- د پلټنې ریاست له خوا، د راغلي هیئت په ګډون، د ۵ تنو مسلکي غړو لپاره د ظرفیت لوړونې پروګرام ترسره شوی دی.
- د پلټنې ریاست له خوا، د مالي، تدارکاتي، خدماتي سندونو، ودانیزو تړونونو، اجناسو او نورو پروژو څېړنه ترسره شوې ده.

## د پام وړ ستونزې او حل لارې

- د عمومي زده کړو او د سواد زده کړو لپاره د درسي کتابونو کمبود.
- د سواد زده کړې لپاره د کورسونو نه موجودیت.
- د نویو مقرر شویو ښوونکو او کارکوونکو لپاره د زده کړیز پروګرامونو لپاره د بودیجې نشتون.
- د ترمیماتي پروژو لپاره د بودیجې نشتون.
- د ښوونکو او د علمي غړو کمبود.

## حل لارې او وړاندیزونه

- د عمومي زده کړو او د سواد زده کړو لپاره د درسي کتابونو رالیږل.
- د سواد زده کړې لپاره د سواد زده کړې کورسونو جوړول .
- د نوي مقرر شویو ښوونکو او کارکوونکو لپاره زده کړیز ورکشاپونه جوړول او بودیجې ورکول.
- د ترمیماتي پروژو لپاره د بودیجې رالیږل.
- د ښوونکو او د علمي غړو کمبودات پوره کول.

## د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ

**دا برخه د پرمختګونو، احصائیوي معلوماتو او شمېرو تحلیل او تفسیر په بر کې نیسي، چې د عملیاتي پلان د ټاکل شوو عناصرو او لومړیتوبونو لرونکې ده. پرمختګونه د هر پروګرام په کچه د ټاکل شوو شاخصونو او موخو له مخې په مفصل ډول تشریح کېږي.**

## برنامه 1: اسلامي زده کړې

### 1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال

### 1.1.1 لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو ته په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

**۱.۱ فعالیت: په مدرسو او دارالحفاظونوکې د طالب العلمانو جذبول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، د مرکز قلات په شمول د ۱۲ بابه ولسوالیو په مدرسو او دارالحفاظونو کې ۳۰۰۰ تنه طالب‌العلمان جذب شوي او د دیني زده کړو لپاره ورته مناسبه زمینه په مؤثره توګه برابره شوې ده.**

**۱.۲ فعالیت: په دارالعلومونوکې د شمولیت زیاتوالی**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند دارالعلومونو کې د لومړي ټولګي 48 تنه طالب العلمان، د 1ـ3 ټولګي پورې 62 تنه طالب العلمان، د 4ـ6 ټولګي پورې 6 تنه طالب العلمان، د 7ـ9 ټولګي پورې 3 تنه طالب العلمان جذب او ورته د زده کړو زمینه برابره شویده، د یادونې وړ ده چې د 10ـ11 ټولګي، 11ـ12 ټولګي پورې طالب العلمان د شرایطو د نه پوره کولو له امله نه دي جذب شوي.**

**۱.۳ فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د مرکزونو په لیلیو کې جذب شوي طُلاب**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، په ۱۴۰۳ کال کې په دوولسو ولسوالیو کې هره یوه لیلیه مدرسه جوړه شوې ده، چې په هره مدرسه کې ۵۰ تنه زده کوونکي جذب شوي او په ټولیزه توګه ۶۰۰ تنه زده کوونکي کیږي. خو د ۱۴۰۴ کال په جریان کې نوي طلاب په لیلیو کې نه دي جذب شوي.**

### 1.1.2 لومړیتوب: د شهادتنامو وېش

**۱.۱ فعالیت: د ثانوي او مافوق ثانویه دورې له طالب العلمانو څخه د ازموینې اخیستنه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو معینیت له لورې، د زابل ولایت په کچه د ثانوي او مافوق ثانویه دورې له ټولټال ۸۳۵ تنه طالب العلمانو څخه ازموینه واخیستل شوه، چې د یادې ازموینې نتایج لا تر اوسه نه دي اعلان شوي.**

**1.2 فعالیت: د خامسې او حفظ فارغانو لپاره د فراغت د اسنادو وېش**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري 473 تنه د خامسه او حفظ فارغانو لپاره د فراغت اسناد ویشل شوي دي.**

### 1.1.3 لومړیتوب: د شهادتنامو چاپ او وېش

**۱.۱ فعالیت: د عالیه دورې د شهادتنامو چاپ او وېش**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د زابل ولایت په کچه ۸۸ تنه د عالیه دورې علمای کرامو ته شهادتنامې چاپ او وېشل شوي دي. همدارنګه، د دویمې ربعې په جریان کې، ۱۴۴ پاڼې شهادتنامې د چاپ لپاره د پوهنې وزارت اړوند اسلامي زده کړو معینیت ته لېږل شوې، چې تر اوسه پورې چاپ شوي نه دي.**

### 1.2 مدرس / استاد/ښوونکی

### ۱.۲.۱ لومړیتوب: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

۱.۱ فعالیت: د رشتې خلاف مدرسينو د ستونزو د حل لاربښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياستونو، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او د مدرسو د ښوونيزو مرکزونو لاربښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، ياد فعالیت د لاربښود د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

۱.۲ فعالیت: د رشتې خلاف مدرسينو د ستونزو د حل لاربښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياستونو، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او د دارالعلومونو او مدرسو د ښوونيزو مرکزونو لاربښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، ياد فعالیت د لاربښوود د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

### ۱.۲.۲ لومړیتوب: د صنفي اصولو/ لومړۍ دورې لپاره د مناسب ترين ښوونکي د توظيفولو په موخه د اړينو تدبيرونو نيول

۱.۱ فعالیت: د لاربښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياستونو، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او د مدرسو د ښوونيزو مرکزونو لاربښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، ياد فعالیت د لاربښوود د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

۱.۲ فعالیت: د لاربښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياستونو، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او دارالعلومونو او مدرسو د ښوونيزو مرکزونو لاربښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، ياد فعالیت د لاربښوود د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

### ۱.۲.۳ لومړیتوب: په تعليمي مرکزونو کې د خالي پوستونو لپاره د رشتې سره سم د مسلکي ښوونکو پر وخت ګمارنه

۱.۱ فعالیت: د طرزالعمل سره سم په مرکزي او ولايتي کچه د خالي بستونو لپاره د رشتې سره سم له مسلکي ښوونکو څخه ازمويني اخيستل
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت له لوري په ښوونيزو مرکزونو او محلي ټولګيو کې د خالي پوستونو د ډکولو په موخه د رشتې سره سم د مسلکي ښوونکو ازمويني په برياليتوب ترسره شوې. هممهاله، د رسمي ليک پر بنسټ د استخدام پروسه موقتا ودرول شوه، او ياد بستونه د ۱۴۰۴ ه ش کال په منظور شوي تشکيل کې تنقيص شول، نو ښوونکي تر اوسه په دندو نه دي ګمارل شوي. د دريمې او څلورمې ربعې په جريان کې، په مدرسو کې هغه بستونه چې د استعفاء يا منفکي له امله خالي شوي وو، د ازموينو په مرسته په دريم ځل ډک شول. په پايله کې، د ۱۱۵ تنو آمرينو، ۳ تنو اجيرانو او ۵۷ تنو مسلکي ښوونکو د بستونو د ډکولو لپاره ازموينه واخيستل شوه او د تقرر په موخه د پوهنې وزارت محترم مقام ته وړاندې شوې، منظوري يې ترلاسه شوه او استخدام شوي دي.

### ۱.۲.۴ لومړیتوب: د علمي کادر اجراء کول

۱.۱ فعالیت: د دارالعلومونو د استادانو د علمي کادر او علمي رتبې اجراء کول
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولايت په کچه يو دارالعلوم شتون لري چې دوه تنه ښوونکي مخکې له مخکې د کادري امتيازو څخه برخمن دي. همدارنګه، د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ۹ تنو نورو ښوونکو کادري فورمې د اسلامي زده کړو معينيت اړوند دارالعلومونو رياست ته استول شوې، چې تر اوسه پورې تأييد شوي نه دي.

### ۱.۲.۵ لومړیتوب: د نصاب د پلي کولو او د طالب العلمانو د زده کړې ارزونې د اوسط پايلو د څېړل لپاره د پلاوي ليږل

۱.۱ فعالیت: د درسي پروګرامونو د پلي کولو او د طالب العلمانو د زده کړې د اوسط ارزونې پايلو څېړل
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت اړوند د مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري، د مرکز قلات له دارالعلوم څخه د درسي پروګرامونو د پلي کولو او د طالب العلمانو د زده کړې د اوسط ارزونې پايلو د څېړنې په موخه څارنه ترسره کړې ده.

### ۱.۲.٦ لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو په مرکزونوکې د مدرسينو او استادانو د ارزونې څېړنه

۱.۱ فعالیت: د ولايتونو او ولسواليو د مدرسينو د مسلکي پراختيا د غړو له لوري د مدرسينو او استادانو د ارزونې څېړنه

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري، د مرکز قلات په شمول په دولسو ولسوالیو کې د 594 تنو مدرسینو او استادانو د تدریس بهیر څارنه او ارزونه ترسره شوې ده.

### ۱.۲.۷ لومړیتوب: له ولایتونو څخه د رارسېدلو راپورونو تحلیل او تجزیه

**۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا غړو د رارسېدلو راپورونو تحلیل او تجزیه**

د ۱۴۰۴ کال د تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت د مسلکي پراختیا غړو له لوري د لومړۍ، دوېمې، درېیمې او څلورمې ربعې راپور ترتیب او د بعدي اجراآتو په موخه په خپل وخت مرکز ته استول شویده.

## 1.3 نصاب

### ۱.۳.۱ لومړیتوب: د مرکز، ولایت او ولسوالی په کچه د ښوونیزکال له پیل مخکې د ښوونیزو مرکزونو د اداري کتابونو وېش

**۱.۱ فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د ۲۸ عنوانه تدوین شوو کتابونو تشریح او لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت د هدایت په اساس، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو لپاره د شپږ بابه اداري کتابونو دوه ورځنۍ سیمنار دایر شوی دی. همدارنګه، د مدرسو د اداري ستونزو د حل په موخه، د یادو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته شپږ عنوانه اداري کتابونه ورکړل شوي دي.

### ۱.۳.۲ لومړیتوب: د دیني مدرسو د ښوونیز نصاب مطابق د اسلامي زده‌کړو معینیت د ښوونیزو مرکزونو لپاره د درسي کتابونو پېرل

**۱.۱ فعالیت: د دیني مدرسو د نصاب مطابق د درسي کتابونو وېش**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو معینیت څخه زابل ولایت ته د دیني ښوونیزو مرکزونو لپاره ۲۸۴۰۰ جلده کتابونه راکړل شوي دي، چې یاد کتابونه د قلات بابا دارالعلوم ته په درېیمې ربعې کې انتقال شوي دي.

## 1.4 ښوونیزه ارزونه

### ۱.۴.۱ لومړیتوب: د علماء کرامو د اسنادو ارزونه او د سویې تثبیتول

**۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د دوولسم ټولګي او څوارلسم ټولګي د علماء کرامو د سویې تثبیتول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، د یاد ولایت په کچه ټولټال ۲۳۴ تنه د دوولسم ټولګي او ۵۹ تنه د څوارلسم ټولګي د علماء کرامو د سویې تثبیت ترسره شوی دی.

### ۱.۴.۲ لومړیتوب: د ولایتونو په کچه د ګډې ازموینې اخیستل

**1.1 فعالیت: د ثانویه مرحلې، (د ثالثه، رابعه او خامسه) درجو ګډه ازموینه اخیستل**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو معینیت له لوري، د یاد ولایت په کچه ټولټال ٦٢٥ تنه طالب العلمانو ثبت نام ترسره کړی وو چې د ثانویه مرحلې ټولټال ۳۵۹ تنه حاضرو طالب العلمانو څخه ګډه ازموینه واخیستل شوه.

**1.2 فعالیت: د فوق ثانویه مرحلې، (د سادسه او سابعه) درجو ګډه ازموینه اخیستل**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د یاد ولایت په کچه د فوق ثانویه مرحلې ټولټال ۲۱۰ تنه طالب العلمانو ثبت نام ترسره کړی وو چې ټولټال ۱۳۰ تنه حاضرو طالب العلمانو څخه ګډه ازموینه واخیستل شوه.

## 1.5 ښوونیز چاپیریال

### ۱.۵.۱ لومړیتوب: په مرکز او ولایتونوکې د مدرسو رامنځته کول

**1.1 فعالیت: د نارینه طالب العلمانو لپاره د دیني مدرسو رامنځته کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، د بستونو د نشتون له امله د یاد ولایت په کچه د نارینه طالب العلمانو لپاره دیني مدرسې ندي تأسیس شوي.

### ۱.۵.۲ لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د رسمي مرکزونو رامنځته کول، د نوم بدلول، ارتقاء، د نوعیت بدلون او مُبیت رامنځته کول

**1.1 فعالیت: په ۳۴ ولایتونوکې د لیلیې رامنځته کول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند، په شملزو ولسوالۍ کې یو باب مدرسه د دارالعلوم نوعیت ته بدل شوی دی. همدارنګه، د څلورو بابه لیلیه مدارسو د تاسیس په موخه د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت ته د ۳۳۵۵ شمېرې او د ۱۴۴۶/۱۲/۳ نېټې وړاندیز په اساس رسمي غوښتنه شوې، چې تر اوسه پورې لا منظوري نه ده ترلاسه شوې.**

**1.2فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د نویو ښوونیزو مرکزونو تأسیسول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت د اړوندو بستونو د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.**

**1.3 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوعیت بدلون**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند، د شملزو ولسوالۍ د یو باب دارالعلوم نوم د «مدرسې» په ډول بدل شوی، او همدارنګه د نوبهار ولسوالۍ د عبدالله ابن مکتوم دارالعلوم مدرسې نوم هم نوي ډول ته تغیر شوی دی.**

**1.4فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوم بدلون**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اطغر ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند د دارالعلوم جهادیه مدرسې نوم د «دیني جهادیه مدرسې» ته بدل شوی دی، د سیورې ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند د حنیفیه مدرسې نوم د «دیني حنیفیه ام المدارس مدرسې» ته تغیر شوی، او همدارنګه د نوبهار ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند د عمریه مدرسې نوم د «دیني عمریه» ته تغیر شوی دی.**

**1.5فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسې لوړېدل**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت د شرایطو د نه پوره کېدو له امله کومې مدرسې دارالعلوم ته ارتقاء نه دی کړې.**

**1.6فعالیت: دارالعلوم ته د ارتقاء لپاره د مدرسو څېړنه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د مرکز قلات او ولسوالیو د ۱۵ بابه مدرسو څخه څېړنه ترسره شوې، خو د شرایطو د پوره نه کولو له امله دغه مدرسو ته د دارالعلوم درجه نه ده ورکړل شوې.**

## 1.6 د ټولنې ګډون

**د اسلامي زده کړو پروګرام په دې برخه کې هیڅ ډول لومړیتوب یا فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دی شامل.**

## 1.7 مدیریت

### ۱.۷.۱ لومړیتوب: د دارالعلومونو د استادانو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل

**1.1 فعالیت: د دارالعلومونو د استادانو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې ریاست اړوند د تعلیمات اسلامي آمریت د قلات بابا دارالعلوم د مامورینو، استادانو او اجیرانو د بستونو د نه شتون له امله ازموینه نه ده اخیستل شوې.**

### ۱.۷.۲ لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تشکیلاتو د اړتیاوو د رفع کولو لپاره د بستونو وېش

**1.1 فعالیت: هغو مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد چې بست ته اړتیا لري**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لوري دمرکز قلات او 6 بابه ولسوالیو د پوهنې آمریت تر چتر لاندې مدرسو کې 31 اضافي بستونه تثبیت، تشخیص او نورو مدرسو ته د انتقال او د تشکیلاتو د اړتیاوو د رفع کولو په موخه د پوهنې وزارت ته وړاندې شوي دي، چې تر اوسه پورې یې منظوري نده راکړل شوې.**

### ۳.۱.۷ لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تأسیس لپاره د بستونو وېش

1.1 فعالیت: جدیدالتأسیس مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د سیوري ولسوالۍ د پوهنې آمریت تر چتر لاندې مدارسو کې 20 اضافي بستونه تثبیت، تشخیص او په یادو اضافي بستونو باندې د نویو مدارسو د رامنځته کولو په موخه د پوهنې وزارت ته وړاندې شوي دي، چې د سیوري ولسوالۍ د پوهنې آمریت ته لس بابه نوې مدرسې ایجاد شوي دي.

## برنامه 2: ښوونه او روزنه

### 2.1 زده کوونکی

#### ۲.۱.۱ لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو د پراخه شمولیت او زده‌کړې لپاره عامه پوهاوی

1.1 فعالیت: د ۱۴۰۵ ښوونیزکال لپاره د عامه پوهاوي برنامې د دایرولو په منظور د ولایتونو د پوهنې ریاست، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د ښوونیزو مرکزونو د شوراګانو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په مرکز قلات، ترنک و جلدک، شینکی، مېزانه، ارغنداب،خاک افغان، دایچوپان، شملزائي او شاه جوی ولسوالیو کې د 141 ښوونیزو مرکزونو او شوراګانو په کچه، د هغو ماشومانو د جذب لپاره چې د زده کړو شرایط پوره کوي، عامه پوهاوی ترسره شو، څو په ۱۴۰۵ کال کې ټول هغه ماشومان چې د زده کړو وړتیا لري، په ښوونیزو مرکزونو کې شامل او جذب شي.

1.2فعالیت: د مرکز، ولایتونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د عامه پوهاوي برنامې دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت د مرکزي هستې علمي غړو له لوري په مرکز قلات، مېزانه، دایچوپان، ارغنداب، ترنک و جلدک، شملزایي ، نوبهار، خاک افغان، شاه جوی او سیوري ولسوالیو کې د پوهنې آمریتونو په کچه 83 غونډې، او همدارنګه په ښوونیزو مرکزونو کې د عامه پوهاوي 166غونډې په بریالیتوب ترسره شوي دي.

1.3 فعالیت: د ښوونځیو د شوراګانو له کړنو څخه ملاتړیزه څارنه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو په واسطه په مرکز قلات، ارغنداب، ترنک و جلدک، خاک افغان، شملزائی، مېزانه، ترنک او جلدک،شاه جوی، دایچوپان، او نوبهار ولسوالیو کې د ۱۴۱ شوراګانو له کړنو څخه د ملاتړ په موخه څارنه ترسره شوې ده.

1.4فعالیت: د بېلابېلو کچو په سړو او تودو سیمو کې لارښوونه او د عامه پوهاوي برنامې دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د مرکز څخه د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان ډېر ناوخته منظور شو، په همدې اساس یاد فعالیت ندی تر سره شوی.

1.5فعالیت: د غږیزو او انځوریزو رسنیو له لارې د عامه پوهاوي پیغامونو خپرول او د تبلیغاتي بروشرونو او پاڼو چاپول
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د ښوونکو د روزنې او عمومي زده کړو آمریت له لوري د هغه ماشومانو د چې د زده کړې په شرایطو برابر دي د بروشرونو او تبلیغاتي پاڼو د چاپ له لارې ورته عامه پوهاوی ترسره شویده.

#### ۲.۱.۲ لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

1.1 فعالیت: په ټولو ښوونیزو مرکزونوکې د زده‌کوونکو غیرحاضري او د زده‌کړې پرېښودل ۲ سلنه ټیټوالی مومي

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په ښوونیزو مرکزونو کې د زده کوونکو غیرحاضري د کمولو او زده کړې پرېښودلو په موخه عامه پوهاوی ترسره شوی دی، چې په پایله کې د زده کوونکو غیر حاضري او د زده کړې پرېښودل ۲ سلنه ټیټوالی موندلی ده.

**1.2فعالیت: د لومړنۍ دورې د جدیدالشمولانو جذبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند په مرکز قلات او ټولو ولسوالیو کې ټولټال 10253تنه زده کوونکي چې د زابل ولایت د میزانې ولسوالۍ په گرمسیر کې راغلي ده چې لومړي ټولگي ته جذب شوي او د زده کړو لپاره ورته مناسب شرایط برابر شوي دي. د یادو زده کوونکو له جملې څخه ٦٧٠١ تنه نارینه او 3552 تنه ښځینه زده کوونکي دي.

**1.3فعالیت: په لومړنۍ، منځنۍ او لېسه دوروکې د ټولگي د تثبیت او سویې ازموینې له لارې د مجاهدینو، راستنېدونکو، تر لندمهاله ښوونې لاندې او سوابقو راوړونکو جدیدالشمولانو جذبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري په لومړنۍ دوره کې 3263 تنه زده کوونکي، په منځنۍ دوره کې50 تنه زده کوونکي چې د نورو ولایتونو او نورو ولسوالیو څخه یې سوابق راوړي دي، او همدارنگه په لیسه دوره کې 80 تنه زده کوونکي چې د نورو ولایتونو او نورو ولسوالیو څخه یې سوابق راوړي او یا هم د سویې آزموینې له لارې جذب او د زده کړو زمینه ورته برابر شوې ده.

**1.4 فعالیت: د کوچیانو د جدیدالشمولانو زده‌کوونکو جذبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د مرکز قلات د پوهنې آمریت اړوند د کوچیانو ښوونځي کې ۱۱۳ تنه، او د شاه جوی ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند د کوچیانو لیسه کې ۱۱۵ تنه کوچیان زده کوونکي په لومړي ټولگي کې جذب شوي او د زده کړو لپاره ورته مناسبه زمینه برابره شوې ده.

**1.5 فعالیت: په مرکز او ولایتونوکې د پوهنې د همکارو مؤسسو له لوري له ښوونځي مخکې برنامه کې د جدیدالشمولانو جذبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، په مرکز او ولسوالیو کې د همکارو مؤسسو له لوري د ښوونځي مخکې په برنامو کې زده کوونکي نه دي جذب شوي، ځکه چې د ښوونې او روزنې په برخه کې کومه همکاره مؤسسه شتون نلري ترڅو د زده کوونکو جذب چارې ترسره کړي.

**1.6: فعالیت: له پولې بهر راستنېدونکو او مجاهدینو د ښوونیزو اسنادو نه لرونکو متقاضیانو د ټولگي تثبیت**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د درې دورو لپاره د 144 تنه مهاجر او 61 تنه مجاهدینو زده کوونکو د تثبیت صنف ازموینې اخیستل شوي دي، چې وروسته د زده کړو لپاره اړوندو ښوونځیو ته ورپیژندل شوي دي.

## ۲.۱.۳ لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو لویانو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

**1.1فعالیت: له اړوندو مرکزونو سره په همکارۍ د هر ښوونیز مرکز تر پوښښ لاندې محل کې په شرایطو برابرو ټولو لویانو د نوملړ چمتوکول؛**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري په لیک‌لوست زده کړو کورسونو کې ۱۰۵۳ تنه، د تفاهم‌نامو په اساس ۲۲ تنه، او د افتخاري کورسونو له لارې ۴۵۹ تنه د شرایطو سره سم ذکور زده کوونکي جذب شوي او د زده کړو لپاره یې مناسبه زمینه برابره شوې ده.

**1.2فعالیت: دکوچیانو په شرایطو برابرو لویانو شمولیت؛**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د مرکز قلات د پوهنې آمریت تر چتر لاندې د سواد زده کړو په کورسونو کې ۲۵ تنه کوچیان د زده کړو شرایطو ته په کتو سره جذب شوي او د زده کړو مناسب فرصتونه ورته برابر شوي دي.

**1.3فعالیت: د جوماتونو د ملا امامانو له لارې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت**

د ۱۴۰۴ مالي کال د دریمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د دایچوپان ولسوالۍ د پوهنې آمریت تر چتر لاندې، د جوماتونو د ملا امامانو له لارې ۲۵ تنه په شرایطو برابر زده کوونکي جذب شوي او ورته د زده کړو مناسب فرصتونه برابر شوي دي.

**1.4 فعالیت: د سواد زده‌کړې په کورسونو، حیاتي سواد او حرفوي ښوونځیوکې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د لیک لوست زده کړو په کورسونو کې(1053) تنه، د تفاهم نامو په اساس (22) تنه، او همدارنګه د افتخاري کورسونو له لارې (459) تنه په شرایطو برابر نارینه زده کوونکي جذب او د زده کړو زمینه ورته برابر شوې ده، همدارنګه، د حیاتي سواد او حرفوي ښوونځي نلرو.**

## ۱.۴.۲ لومړیتوب: د روغتیایي مرکزونو په همکارۍ د جدیدالشمولانو له روغتیا په ځانګړې توګه د اورېدو، لیدو، خولې او غاښونو د فضا او ساري ناروغیو له معاینې څخه اطمینان

**1.1فعالیت: د جدیدالشموله زده‌کوونکو له روغتیایي سموالي څخه اطمینان**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د صحت مدیریت له لوري په ترنک و جلدک، مرکز قلات او شاه جوی ولسوالیو کې د ناروغیو د مخنیوي په موخه د 500 تنو نویو زده کوونکو صحي معاینات د اړوندو روغتیایي مرکزونو په همکارۍ ترسره شوي دي.**

## ۲.۱.۵ لومړیتوب: په ښوونځیوکې د اوبو، روغتیا ساتنې، نظافت(WASH) د برنامو تطبیق او د لومړنیو مرستو د کیټونو او تبلیغاتي روغتیایي موادو وېش

**1.1فعالیت: د روغتیایي تبلیغاتي موادو، د حفظ الصحه او نظافت کیټونو او لومړنیو مرستو وېش**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د (ډبلیو اېچ او) همکارې مؤسسې له لوري په روان کال کې د د روغتیایي موادو، حفظ الصحې، نظافت کېټونو او لومړنیو مرستو په برخه کې کومه همکاري نده ترسره شوې.**

## ۲.۱.۶ لومړیتوب: د هېواد په ښوونځیوکې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو د مخوه‌کولو سراسري کمپاین

**1.1فعالیت: د ښوونځیو د کچې ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو ضد تابلېټو وېش**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د ښوونکو د روزنې او عمومي زده کړو آمریت له لوري په مرکز قلات او شاه جوی ولسوالۍ کې 14730تنه زده کوونکو ته د کولمو د چېنجیو ضد تابلېټونه ویشل شوي دي.**

## ۲.۱.۷ لومړیتوب: په خصوصي مرکزونوکې د ښوونې او روزنې د زمینې برابرول

**1.1 فعالیت: د هغو زده‌کوونکو د درې‌کلنو نمرو ترتیبول او ژباړل چې د زده‌کړې د ادامې په موخه له هېواده بهر سفرکوي**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې تر اوسه پورې چا مراجعه نه ده کړې.**

**1.2فعالیت: د اړوندو قوانینو او لارښودونو مطابق د خصوصي ښوونیزو مرکزونو د زده‌کوونکو د تصدیق‌لیکونو اجراکول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې ریاست اړوند د ښوونکو د روزنې او عمومي زده کړو آمریت له لوري د مرکز قلات د پوهنې آمریت تر چتر لاندې د فرصت ښوونیز مرکز، هېواد اکاډمي او همدارنګه د شاه جوی ولسوالۍ د پوهنې آمریت تر چتر لاندې د حکیم شمشاد اکاډمي د زده کوونکو د فراغت 3 پاڼې تصدیقونه اجراء شوي دي.**

**1.3فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او ښوونیزوکورسونوکې د یتیمو، بې وزله ماشومانو، د شهیدانو ورثې او معلولینو د فیس د تخفیف اجرا کول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د شاه جوی ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند، د شاه جوی خصوصي ښوونځي له خوا ۴۴ بېوزلو زده کوونکو، ۴ یتیمانو او ۲ معلولینو ته د فیس په برخه کې تخفیف ورکړل شوی دی.**

## ۲.۱.۸ لومړیتوب: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د المپیاد(علمي سیالیو) او د ساینس او ریاضیاتو د عملي پروژو دایرول

**1.1فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې محترم وزارت څخه د زابل ولایت د پوهنې ریاست ته د ساینس او ریاضیاتو د عملي پروژو دایرولو په موخه د لارښود د تطبیق لپاره لار ښوونه ترسره شوې ده.**

1.2فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې د آمریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت له لوري د مرکز قلات پوهنې آمریت او د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د لارښود د تطبیق په موخه لارښوونې ترسره شوې دي.

1.3فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د مرکز قلات او د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري ښوونیزو مرکزونو ته د لارښود د تطبیق په موخه لارښوونې ترسره شوې دي.

1.4 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو په کچه د علمي سیالیو او عملي پروژو دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د ښوونکو د روزنې او عمومي زده کړو آمریت اړوند د مرکز ساینس علمي غړو په توسط باندې د ښوونیزو مرکزونو په کچه علمي سیالۍ ترسره شوې دي.

1.5فعالیت: د ولسوالیو د پوهنې آمریت په کچه د علمي سیالیو او عملي پروژو دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د ښوونکو د روزنې او عمومي زده کړو آمریت اړوند د مرکز ساینس علمي غړو په توسط باندې د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه علمي سیالۍ ترسره شوې دي.

1.6فعالیت: د ولایتونو د پوهنې د ریاستونو په کچه د علمي سیالیو او عملي پروژو دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د ښوونکو د روزنې او عمومي زده کړو آمریت اړوند د مرکز ساینس علمي غړو په توسط باندې د ولایت په کچه علمي سیالۍ ترسره شوې، چې د همدې سیالیو په ترڅ کې د شاه جوی ولسوالۍ د پوهنې آمریت تر چتر لاندې د عظمت عالي لیسې یو تن زده کوونکی کوم چې د ولایت په کچه یې لومړی مقام ترلاسه کړ مرکز کابل ته ور وروپېژندل شو.

## 2.2 ښوونکي

### ۲.۲.۱ لومړیتوب: د ورسپارل شوو دندو پرمخ بېولو لپاره د ساینس مرکز د مرکزي او ولایتي علمي غړو ښوونه

1.1فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ساینس مرکزونو د علمي غړو لپاره د ښوونیزې برنامې دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې وزارت د ساینس ریاست له لوري د زابل ولایت د پوهنې ریاست د ښوونکو د روزنې او عمومي زده کړو آمریت اړوند د مرکز ساینس 8 تنه علمي غړو ته د عملي زده کړو په برخه کې 2 ځلې ورځنۍ ورکشاپ دایر شویده.

### ۲.۲.۲ لومړیتوب: د غیر مسلکي او رشتي خلاف ښوونکو او مدیرانو ظرفیت لوړول او مسلکي پراختیا

1.1 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکیتوب یوه کلنه برنامه دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د علمي غړو له لوري د مرکز قلات د پوهنې آمریت تر چتر لاندې د 30 تنه خلاف رشته ښوونکو د مسلکیتوب په موخه یو کلنه برنامه دایره شوې ده.

1.2فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د غیرمسلکي او رشتي خلاف ښوونکو او لابرانتونو ظرفیت لوړول
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د غیر مسلکي او رشتې خلاف ښوونکو د ظرفیت لوړولو په منظور د مرکز قلات د پوهنې آمریت اړوند په ښوونځیو کې 30 تنه ښوونکو ته روزنه ورکړل شوې ده.

### ۲.۲.۳ لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر ښوونکو او لابرانتونو ظرفیت لوړول او مسلکي پراختیا

1.1فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر ښوونکو او لابرانتونو لپاره د ورکشاپونو دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مرکز ساینس علمي غړو له لوري د ښوونیزو مرکزونو د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر ښوونکو او لابرانتانو لپاره د رشتې مطابق 30 تنو ښوونکوته د مسلکي ودې په موخه د ریاضي، فزیک، کیمیا او بیولوژي اړوند د عملي تجاربو (6) ورځنۍ سمینار دایر شوی دی.

### ۲.۲.۴ لومړیتوب: د رشتې خلاف ښوونکو د ستونزو د حل لپاره اړین تدبیرونه نیول

**1.1فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندنې په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاست او ولسوالیو د پوهنې آمریتونو لارښوونه**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په شفاهي ډول د 12 ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته د رشتې خلاف ښوونکو د ستونزو د حل لپاره اړینې لارښوونې ورکړل شوې دي. سربېره پر دې، په مرکز قلات کې د ۱۶ ښوونیزو مرکزونو لپاره هم د رشتې خلاف ښوونکو په اړه لازمي لارښوونې شوي دي.**

**1.2 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو پېژندنه او معلومات راټولول**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په مرکز قلات، شینکی، ترنک. جلدک، شاه جوی، ارغنداب، مېزانه، سیوري، نوبهار او شملزایي ولسوالیو کې په تکراري ډول 200 ځله له ښوونځیو څخه د خلاف رشتې ښوونکو اړوند معلومات راټول او تثبیت شوي دي.**

### ۲.۲.۵ لومړیتوب: د موجودو مدرسانو، استادانو او ښوونکو د توظیفولو لپاره د رشتې مطابق اړین تدبیرونه نیول

**1.1فعالیت: د رشتې سره سم د ښوونکو د توظیفولو د لارښود د تطبیق په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاست، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو د کارکوونکو لارښوونه**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا د لسو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته په شفاهي ډول لارښوونه شوې، څو د رشتې مطابق ښوونکي استخدام کړي، او همدارنګه په مرکز قلات، دایچوپان، اطغر، مېزانې، سیوري، نوبهار، خاک افغان، ارغنداب،ترنک و جلدک، شاه جوی، شینکی او شملزایي ولسوالیو کې 297 ځله ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه شوې ده، ترڅو د مسلک سره سم ښوونکي پر دندو وګمارل شي.**

**1.2 فعالیت د رشتې سره سم ښوونکو د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا په مرکز قلات، دایچوپان،خاک افغان،شینکی، مېزانه، سیوري، نوبهار، شملزایي، ترنک و جلدک، ارغنداب او شاه جوی ولسوالیو کې له 208 ځله د ښوونیزو مرکزونو څخه د مسلک مطابق ښوونکو د توظیف لارښود د تطبیق د باوري کولو په موخه حمایوي څارنه ترسره شوې ده.**

### ۲.۲.٦ لومړیتوب: د صنفي اصولو لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیفولو په موخه اړین تدبیرونه نیول

**1.1 فعالیت د چمتو شوي لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا د ۱۰ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او 192بابه ښوونیزو مرکزونو څخه د اصولي صنفي دورې لپاره د وړ ښوونکو د ټاکلو په موخه لازمې لارښوونې ترسره شوې دي.**

**1.2فعالیت: د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه او د صنفي اصولو د دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي توظیفول**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت علمي غړو له لوري په مرکز قلات، دایچوپان، شملزایي، خاک افغان، شنکی، سیوري، ترنک و جلدک، مېزانه، ارغنداب، نوبهار او شاه‌جوی ولسوالیو کې له 153 بابه ښوونیزو مرکزونو څخه د اصولي صنفي دورې د لارښود د تطبیق د باوري کېدو په موخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.**

### ۲.۲.۷ لومړیتوب: په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د مسلکي پراختیا غړو ګمارنه بشپړه کول او هغوی ته لارښوونه کول چې خپلې ورسپارل شوې دندې ترسره کړي.

**1.1فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د دندو د چوکاټ، دندو د لایحو، څارنیزو وسایلو، د افکارو د روښانولو او مسؤولیت منلو په اړه د معرفتي او رهنمودي ښوونیزې برنامې دایرول**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست د مرکزي هستې 46 تنه د انکشاف مسلکي علمي غړو په کندهار ولایت کې روزنه ورکړل شویده او همدارنګه د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو تر چتر لاندې 42 تنه د انکشاف مسلکي علمي غړو ته د مرکزي هستې د علمي غړو له لوري روزنه ورکړل شوه.**

### ۲.۲.۸ لومړیتوب: د جدیدالتقرر ښوونکو او مدیرانو ظرفیت لوړول او مسلکي پراختیا

**1.1فعالیت: د جدیدالتقرر ښوونکو لپاره د ظرفیت لوړولو ښوونیزې برنامې دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په مرکز قلات، نوبهار او شاه‌جوی ولسوالیو کې 644 تنو ښوونکو ته د ظرفیت لوړونې په موخه روزنیز پروګرامونه ترسره شوي دي.

**1.2 فعالیت: د جدیدالتقرر سرښوونکو او مدیرانو لپاره د ظرفیت لوړولو ښوونیزې برنامې دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا د شاه‌جوی ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند (۷) تنو سرښوونکو او مدیرانو ته د ظرفیت لوړونې په موخه روزنه ورکړل شوې ده.

### ۲.۲.۹ لومړیتوب: د ښوونکو، زده کونکو او کارمندانو لپاره د ظرفیت لوړولو چمتو کول

**1.1 فعالیت: د ښوونکو لپاره د روغتیایي ورکشاپونو دایرول**

د۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست له لوري تیم نه دی راغلی تر څو د ښوونکو لپاره روغتیایي ورکشاپونه په لاره واچوي.

**1.2فعالیت: د روغتیا مدیرانو لپاره د ورکشاپونو دایرول**

د۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست له لوري تیم نه دی راغلی تر څو د روغتیا مدیرانو لپاره ورکشاپ په لاره واچوي.

### ۲.۲.10 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې د رضاکاره او افتخاري ښوونکو د جلب او جذب لپاره د ځایي خلکو همکاري

**1.1فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د ښوونکي د کمښت د رفع کولو لپاره د ځایي خلکو له لوري افتخاري تدریس او د غیر رسمي ښوونکو توظیفول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د سواد زده کړې 14 بابه کورسونه د رضا کار/ افتخاري ښوونکو او د خلکو په همکاري باندې فعاله ساتل شوي دي.

## 2.3 نصاب

### ۲.۳.۱ لومړیتوب: د اړوندو مضامینو په تدریس کې د عینې چاپیریالي موادو او تجربو کارولو ته وده ورکول.

**1.1فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې آمریتونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه د لارښود د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**1.2فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه د لارښود د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

### ۲.۳.۲ لومړیتوب: د نصاب سره سم د ساینس، ریاضي او کمپیوټر تجربوي لارښود کتابونو بیاکتنه او د هغوی ویش

**1.1فعالیت: د دارالعلومونو د مدرسینو او ښوونکو لپاره له ۴ تر ۱۲ټولګیو پورې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو ویش**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د نشراتو ریاست له لوري د تجربو د لارښود کتابونه له زابل ولایت سره نه دي شریک شوي.

### ۲.۳.۳ لومړیتوب: درسي مرستندویه موادو(د ریاضي، بیولوژي کیتونو او چارتونو او ښوونیزو ویډیوګانو) ته د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو د لاسرسي د زمینې برابرول

**1.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې له ریاستونو څخه د ولسوالیو/ ناحیو د پوهنې امریتونو ته د درسي مرستندویه موادو لېږد**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مرکز ساینس مدیریت علمي غړو له لوري مرکز قلات، ارغنداب، ترنک و جلدک او شاه جوی ولسوالی د پوهنې آمریتونو ته درسي مرستندویه مواد(د ریاضي، بیولوژي کیتونه او چارتونه او همدارنگه ښوونیزې ویډیوګانې) لېږدول شوي دي.

1.2 فعالیت: د ولسوالیو/ ناحیو د پوهنې له آمریتونو څخه ښوونیزو مرکزونو ته د درسي مرستندویه موادو لېږل
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د مرکز قلات، شاه جوی، ترنک و جلدک، او ارغنداب ولسوالی د پوهنې آمریتونو له لوري درسي مرستندویه مواد(د ریاضي، بیولوژي کیتونه او چارتونه او همدارنگه ښوونیزې ویډیوګانې) ښوونیزو مرکزونو ته استول شوي دي.

1.3فعالیت: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د درسي مرستندویه موادو وېش
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت د مرکز ساینس علمي غړو له لوري د اسلامي زده کړو آمریت اړوند پنځه بابه مدارسو ته درسي مرستندویه مواد ورکړل شوي، او همدارنګه د ترنک او جلدک ولسوالۍ مرکزي لیسې،شاه جوی ولسوالۍ جمال خېلو لیسې، قلات ښار د پوهنې آمریت سلطان ملخي، لیسې، ارغنداب ولسوالۍ سیدخېل لیسه تجهیز او همدارنګه د سواد زده کړې د مرکزي لېوا، ضربتي کنډک، بالاحصار، رحمن مېنه او کوچیانو کورسونو ته مرستندویه مواد ورکړل شوي.

## ۲.۳.۴ لومړیتوب: د صنفي اصولو دورې لپاره د کمبود درسي کتابونو په ځانګړې توګه اساسي مضمونونو چاپ او د هغو متوازن وېش

1.1فعالیت: له ذیدخلو اړخونو او مرکزي او ولایتونو له ریاستونو سره د درسي کتابونو په کمښت کې همغږي او اړتیا سنجونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د اصولې صنفي دورې د کمبود کتابونو د معلوماتو راټولولو په موخه رسمي لیک استول شوی دی، چې تر دا مهاله د ولسوالیو څخه معلومات راټول شوي دي همدارنګه د نشراتو مدیریت سره په همغږۍ د کتابونو د وېش لپاره پلان ترتیب شویده، د یونیسیف مؤسیسې له لوري د ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته انتقال شي.

## ۲.۳.۵ لومړیتوب: په ښوونځیوکې د بدني روزنې د ودې او پراختیا په منظور د ښوونکي د لارښودکتاب وېش

1.1فعالیت: د پوهنې د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب وېش
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې وزارت څخه د کتابونو د انتقال لپاره رسمي نماینده معرفي کړیده ترڅو د زابل ولایت د پوهنې ریاست ته  یاد کتابونه انتقال کړي، چې تر اوسه پورې ندي انتقال شوي.

## ۲.۳.٦ لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونه

1.1فعالیت: د سواد زده‌کړې برنامې د ضرورت وړ کتابونو اړتیاسنجونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د سواد زده کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونو د ترلاسه کولو په منظور د پوهنې وزارت د سواد زده کړې ریاست ته وړاندیز لېږل شوی دی، چې تر اوسه پورې کتابونه نه دي رالېږل شوي.

## 2.4 ښوونیزه ارزونه

**د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان کې کوم فعالیت او یا هم اولویت په دې برخه کې شامل نه ده.**

## 2.5 روزنیز چاپیریال

## ۲.۵.۱ لومړیتوب: په ښوونیزو مرکزونوکې د لابراتوار او کمپیوټرلبونو رامنځته کول او تجهیزول

1.1فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز په منظور د ښوونیزو مرکزونو اړتیا سنجونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د ښوونیزو مرکزونو اړتیاوې د لابراتوارونو او کمپیوټر لبونو د رامنځته کولو او تجهیز په موخه په مرکز قلات کې ۵ بابه، په شاه‌جوي ولسوالۍ کې ۳ بابه، په سیوري ولسوالۍ کې ۱ باب، او همدارنګه په ارغنداب ولسوالۍ کې ۱ باب ښوونځی څخه د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز په منظور اړتیا سنجونه ترسره شوې ده تر څو د ښوونیزو مرکزونو اړتیاوې په ګوته شي.

**1.2فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو لپاره د ساینس او ریاضیاتو لابراتوارونه رامنځته کول**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د قلات ښار د پوهنې آمریت اړوند په سلطان ملخي عالي لیسه کې، چې له وړاندې څخه یې لابراتوار نه درلود، یو نوی لابراتوار ایجاد شوی دی او همدارنګه د ارغندب ولسوالۍ د پوهنې آمریت تر چتر لاندې د سیدخېلو لېسه کې لابراتوار ایجاد شوی.

**1.3 فعالیت: په سامان آلاتو او لابراتواري موادو د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټرلبونو تجهیزول**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د ترنک او جلدک ولسوالۍ د پوهنې آمریتونو تر چتر لاندې د مرکزي لیسې لابراتوار او په ارغنداب ولسوالۍ کې د سیدخېلو لیسې لابراتوار تجهیز شوی دی، د مرکز د ښار د پوهنې آمریت د شیخمتي بابا عالي لیسې د کمپیوټر لب د تجهیز په موخه (15) دانې کمپیوټران توزیع شوي دي.

## ۲.۵.۲ لومړیتوب: په ګدامونو او اداروکې د استفادې وړ سرچینو پېژندنه او د هغو متوازن وېش(درسي کتابونه، میز او چوکۍ، توره تخته، مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه باب، فرش او خیمه، وسایط، وسایل، تجهیزات او لابراتواري مواد)

**1.1فعالیت: په اړوندوګدامونو او اداروکې د وسایلو، تجهیزاتو او لابراتواري موادو پېژندنه او د استفادې لپاره په ښوونیزو مرکزونوکې د هغو متوازن وېش**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري، د مرکز د ساینس عمومي مدیریت اړوند ګودامونو کې لابراتواري وسایل او اړوند مواد په بشپړ ډول تشخیص، بسته‌بندي او د اړتیا وړ مرکزونو ته وېشل شوي دي. سربېره پر دې، د پوهنې ریاست اړوند ګودامونو کې د پخواني دارالمعلمین لابراتواري وسایل او مواد وروسته له پیژندلو او لیست جوړولو څخه مرکز ساینس ګودام ته وسپارل شول، او ټول موجود مواد په منظمه توګه وویشل شول.

## ۲.۵.۳ لومړیتوب: د بې ښوونکي ټولګیو لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

**1.1فعالیت: د بې ښوونکي درسي ټولګیو پېژندنه**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په مرکز قلات، خاک افغان، دایچوپان، شینکی، اطغر، شاه جوی، مېزانه، سیوري، نوبهار، ترنک و جلدک، شملزایی او ارغنداب ولسوالیو کې 208 بابه ټولګي تشخیص شوي چې تر اوسه ښوونکي نه لري.

**1.2فعالیت: د هغو ښوونیزو مرکزونو پېژندنه چې پر ښوونکي د زده‌کوونکي نسبت یې له ټاکل شوي نورم څخه ټیټ دی**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند علمي غړو له لوري په مرکز قلات، ترنک و جلدک، مېزانه، سیوري،اطغر، او شاه جوی ولسوالیو کې 33 بابه ښوونځي تشخیص شوي، چې د ځینو ټولګیو د زده‌کوونکو شمېر پکې له ټاکل شوي نورم څخه کم دی.

**1.3فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوي، ځکه چې تر اوسه پورې د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت ته تر دې دمه لارښود نه دی رالېږل شوی.

**1.4فعالیت: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوي، ځکه چې تر اوسه پورې د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت ته تر دې دمه لارښود نه دی رالېږل شوی.

**1.5فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوي، ځکه چې تر اوسه پورې د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت ته تر دې دمه لارښود نه دی رالېږل شوی.

1.6فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو له راپور ورکولو وروسته د بې ښوونکي ټولګیو لپاره د (خدمتي، قراردادي او رسمي) ښوونکي د چمتوکولو په موخه د کارکوونکو چارو له لوی ریاست سره همغږي
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د سرچینو او اداري آمریت سره د همغږۍ مجلس ترسره شوی دی ترڅو په یادو بستونو کې قراردادي ښوونکي مقرر کړي.

## ۲.۵.۴ لومړیتوب: د آزادې فضا ټولګیو لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

1.1 فعالیت: د هغو ښوونځیو چې په آزاده فضاکې د ټولګیو لرونکي دي او دهغو ټولګیو چې په آزاده فضاکې قرار لري پېژندنه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند علمي غړو له لوري په مرکز قلات، شاه جوی، شنکۍ، مېزانه، سیوري، نوبهار، شملزایی، ترنک و جلدک، خاک افغان او ارغنداب ولسوالیو کې 45 بابه ښوونځي تشخیص شوي، چې تدریسي بهیر یې لا هم د ازادې فضا (د شنه آسمان لاندې) تر سیوري لاندې ترسره کېږي.

1.2فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د مرکز قلات او د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري ښوونیزو مرکزونو ته د لارښود د تطبیق په موخه لارښوونې ترسره شوي دي.

1.3: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو له لوري د لارښود د تطبیق په موخه لارښوونې ترسره شوي دي.

1.4فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت په کچه په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې لارښود پلي شوی او لاهم د پلي کیدو په حال کې دی.

1.5فعالیت: د مسلکي پراختیا غړو د راپور له وړاندې کولو وروسته د بې ودانۍ ښوونځیو لپاره د ښوونیز چاپېریال لګه (د خېمې او کرايي ودانۍ) د پیداکولو او برابرولو په موخه له اړوندو ریاستونو سره همغږي
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو د راپور له وړاندې کولو څخه وروسته په مرکز قلات کې د نورک او نسوان رسالې ښوونځیو، او همدارنګه په شاه جوی ولسوالۍ کې د مهاجرینو ښوونځۍ ودانۍ په کرایه نیول شوې دہ.

## ۲.۵.۵ لومړیتوب: د صنفي اصولو دورې په خاصه توګه د لومړي ټولګي لپاره د بهترین ټولګي د ځانګړې کولو په موخه د اړینو تدبیرونو نیول

1.1 د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ تر لاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري په مرکز قلات، خاک افغان، شملزایی، شنکۍ، سیوري، ترنک او جلدک، نوبهار ، میزانه او ارغنداب ولسوالیو کې په تکراري ډول د 162 بابه ښوونځیو څخه د اصولي صنفي دورې لپاره د ښوونکو د توظیفولو د لارښود د تطبیق ملاتړیزه څارنه ترسره شوې دہ. په پایله کې ټولو یادو ښوونځیو مدیرانو ته لارښوونه شوې دہ چې د ښوونځي اصولي صنفي دوره د لارښود مطابق ترتیب کړي.

1.2فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست ته د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست څخه رسمي لیک په واسطه لارښوونه شوې دہ، ترڅو په ځانګړې توګه د لومړي ټولګي لپاره غوره ټولګي وټاکي.

1.3فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست څخه د زابل ولایت پوهنې ریاست ته راغلی رسمي لیک د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته استول شوی دی ترڅو د اصولې صنفي دورې په خاصه توګه د لومړي ټولګي لپاره بهترین ټولګی ځانګړی کړي.

**1.4فعالیت: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه شوې ده تر څو د لارښود مطابق کړنې ترسره کړي.**

**1.5فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په ښوونیزو مرکزونو کې د لارښود مطابق د اصولي صنفي او په ځانګړې توګه دلومړي ټولګي لپاره بهترین ټولګي غوره شوي دي.**

## ۲.۵.٦ لومړیتوب: له (دمې پرته) د ښوونیزکال له پیل سره د ښوونیزو مرکزونو د تعلیمي فعالیتونو د شروع لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

**1.1فعالیت: د ښوونیزکال په پیل کې په ښوونځیوکې د ښوونیزو فعالیتونو له شروع څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې له مرکز څخه تیم نه دی راغلی ترڅو په ښوونځیو کې د ښوونیز فعالیتونو له شروع څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور څارنه ترسره کړي.**

**1.2فعالیت: د ښوونیزکال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د وېش له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د علمي غړو لخوا په مرکز قلات، شاه جوی، شنکی، سیوري، ترنک او جلدک، ارغنداب او نوبهار ولسوالیو کې د ۹۱ بابه ښوونځیو څخه د ښوونیز کال له پیل څخه مخکې د درسي کتابونو او موادو د وېش بهیر ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.**

**1.3: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست له لوري د زابل ولایت پوهنې ریاست ته د لارښوود د تطبیق په اړه لارښوونه ترسره شوې ده.**

**1.4فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالی د پوهنې د آمریتونو لارښوونه**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونه شوې ده.**

**1.5فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لانبوونه**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري ښوونیزو مرکزونو ته د لارښود دتطبیق په اړه لارښوونه ترسره شوې ده.**

**1.6فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ښوونیزو مرکزونو کې لارښود په مکمل ډول پلي شوی دی.**

## ۲.۵.۷ لومړیتوب: حداکثر په دوو ټایمونوکې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم لپاره اړین تدبیرونه نیول

**1.1فعالیت: دهغو ښوونځیو پېژندنه چې له دوو څخه زیات درسي ټایمونه لري**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند، د مرکز قلات د پوهنې آمریت پورې تړلې شیخمتي بابا عالي لیسه پېژندل شوې ده چې درې درسي ټایمونه لري.**

**1.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**
**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست له لوري د زابل ولایت پوهنې ریاست ته د لارښوود د تطبیق په اړه لارښوونه نده ترسره شوې ده.**

**1.3فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالی د پوهنې د آمریتونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونه نده شوې ده.

1.4: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري ښوونیزو مرکزونو ته د لارښود دتطبیق په اړه لارښوونه نده ترسره شوې ده.

1.5: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري ښوونیزو مرکزونو ته د لارښود دتطبیق په اړه لارښوونه نده ترسره شوې ده.

## ۲.۵.۸ لومړیتوب: په ټول هیواد کې د تعلیمي فرصتونو برابرول او د ښوونځیو متوازن کول

**1.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو سره د تعلیمي فرصتونو برابرول او د ښوونځیو د متوازن کولو لارښود نه دی شریک شوی.

**1.2فعالیت: د لومړنیو په منځنیو او منځنیو په لیسه ښوونځیو لوړول**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د یاد ولایت په کچه هیڅ یو ښوونځي ښوونځي ارتقاء نه دی کړې.

**1.3فعالیت: د هغو کلیو او محلاتو تشخیصول چې ماشومان یې د واټن د ستونزې او نورو جغرافیایي ستونزو له امله له زده‌کړې بې برخې پاتې دي د هغوی لپاره د بدیلو خدماتو برابرول**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو تر چتر لاندې هغه ټول کلي او محلونه تشخیص شوي چې ماشومان یې د واټن ستونزې او نورو جغرافیایي مشکلاتو له امله له زده کړو بې برخې پاتې دي؛ خو د یادې ستونزې د حل لپاره بدیل خدمات د تشکیلاتي کمښت له کبله برابر شوي نه دي.

**1.4فعالیت: په کابل ښار او ولایتونوکې د دولتي او خصوصي ښوونځیو او کورسونو د نوم بدلون؛**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري په مرکز قلات کې د یو باب اکاډمي نوم له میرویس نیکه څخه د میرویس نیکه زابل ته تغیر شوی دی.

**1.5فعالیت: په کابل ښار او ولایتونوکې د خصوصي ښوونیزو مرکزونو( ښوونځیو او کورسونو) د نوم تأییدول**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري په مرکز قلات کې د رڼا او فیضي په نوم یو کورس د نوم تائید شوی دی.

**1.6فعالیت: د ښوونکو د مسلکي پراختیا غړو له راپور وروسته د ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د تأسیس کړنلارې او اساسي او ثانوي زده‌کړو د لایحې د شرایطو نه بشپړېدو په صورت کې د دولتي ښوونځیو د درسي شعبو مدغمول**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د علمي غړو له لوري د ښوونیزو مرکزونو د تاسیس کړنلارې او د اساسي او ثانوي زده کړو د لایحې د شرایطو د نه پوره کېدو په هکله هیڅ کوم راپور نه دی راکړل شوی، چې له امله یې د ښوونیزو مرکزونو کې شعبې مدغم شي.

**1.6فعالیت: د ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د تأسیس او لوړاوي کړنلارې د شرایطو د نه بشپړېدو په صورت کې د دولتي ښوونځیو مدغمول**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د علمي غړو له لوري د ښوونیزو مرکزونو د تاسیس کړنلارې د شرایطو د نه پوره کېدو په هکله هیڅ کوم راپور نه دی راکړل شوی، چې له امله یې دولتي ښوونځی مدغم شي.

**1.7فعالیت: د ولایتونو په کچه له موجوده ولسوالۍ څخه بلې وړاندیز شوې ولسوالۍ یا ولایت ته د ښوونځیو لېږد او ثبتول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، له هېڅ ولسوالۍ څخه وړاندیز نه دی شوی چې ښوونځي له یوې ولسوالۍ بلې ولسوالۍ یا له ولسوالۍ څخه ولایت ته انتقال کړي.

**1.8فعالیت: د یوې ولسوالۍ/ ښوونیزې حوزې په کچه د بست د اړتیا او کمښت په صورت کې له یوه ښوونځي څخه بل ښوونځي ته د اضافه زمره بستونو لېږدول**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د شاه جوی ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند له بابا هوتک لېسې څخه یو بست او له بابا هوتک نمبر ۲ لېسې څخه یو بست د سنځر ابتدايي ښوونځي ته او همدارنګه د ترنک و جلدک ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند 3 بستونه د انتقال او همدارنګه د باغ متوسطه ښوونځی څخه د سیدخېلو لیسې ته د اجیر بست انتقال شویده. منظوري راغلې ده چې په پای کې اړوند مراجعو ته استول شوې ده.

## ۲.۵.۹ لومړیتوب: د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو د ښه‌والي او ودانۍ جوړولو په موخه د ستونزو پېژندل

**1.1فعالیت: د اړتیا او لزوم دید سره سم د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو تر شخړې لاندې پروژو د چارو بیالیدنه او همغږي**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اړتیا له مخې د عمومي زده کړو د ښوونځیو تر ټولو پروژو بیاکتنه او همغږي د ساختماني پروژو د نشتوالي له امله نه ده ترسره شوې.

**1.2فعالیت: د پروژو د تطبیق په منظور د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو د ودانیزو پروژو د اړتیاوو راټولول**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له خوا د ودانیو پروژو د اړتیاوو د معلوملو په موخه د زابل ولایت په مرکز او ټولو ولسوالیو کې د بې تعمیره ښوونځیو معلومات راټول شوي او د پوهنې وزارت ته په رسمي لیک سره استول شوي دي.

**1.3فعالیت: له ښکېلو ادارو سره د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د هغه ودانیزو پروژو په اړه همغږي چې د سیمې د اوسېدونکو د غوښتنو له لارې دې اداري ته رارسېږي**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له خوا یاد فعالیت د ودانیزو پروژو د نشتوالي له امله نه دی ترسره شوی.

**1.4فعالیت: د مرکزي او ولایتونو د ریاستونو له ښکېلو اړخونو سره د عمومي زده‌کړو د جدیدالتأسیس، ارتقایي او نورو هغه ښوونځیو د ودانیزو پروژو د ستونزو همغږي چې ( د احاطې دیوال، تشنابونو او د روغتیایي اوبو د څاه) جوړولو ته اړتیا لري**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت د همکارو مؤسسو له لوري نه دی ترسره شوی.

## ۲.۵.۱۰ لومړیتوب: د تعلیماتي عمومي ښوونځي ساحې شنه کول

**۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په ښوونځیوکې د شنو ساحو د رامنځته کولو لپاره د نهالونو او ګلانو کښېنول**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د شنې ساحې د رامنځته کولو په منظور د پوهنې ریاست په مرکزي هسته او 7 بابه ښوونځیو کې 315 مثمر او غیر مثمر نهالونه کښېنول شوي دي.

## ۲.۵.۱۱ لومړیتوب: د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو د اړوندو ساحو نظافت او پاکوالی

**۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د پاکوالي لپاره د حشرکارونو په لاره اچول**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د مرکز قلات د پوهنې آمریت اړوند په 22 بابه ښوونځیو کې د پاکوالي په موخه د زده کوونکو په واسطه د حشر کارونه په تکراري ډول ترسره شوي دي.

## ۲.۵.۱۲ لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو د میدانونو او ورزشکارانو د احصائیې ترتیب او چمتوکول

**۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د ورزشي ډګرونو او بېلابېلو رشتو د ورزشکارانو د احصائیې راټولول**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د ۷ ولسوالیو (شاه جوی، ترنک و جلدک، شنکی، ارغنداب، خاک افغان، مېزانې او سیوري) د پوهنې آمریتونو ته د میدانونو او ورزشکارانو د احصائیې د ترتیب او چمتو کولو په موخه رسمي لیکونه استول شوي، خو تر اوسه بشپړ شوی نه دی.

## ۲.۵.۱۳ لومړیتوب: د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځته کول

**1.1فعالیت: د رسمي ښوونکو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځته کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري په مرکز قلات او(شاه جوی، شنکی، مېزانه، خاک افغان، دایچوپان او اطغر) ولسوالیو کې د رسمي ښوونکو په مرسته ۵٦ بابه کورسونه رامنځته شوي دي او همدارنګه ۴ بابه کورسونه د تفاهم نامو پر اساس جوړ شوي دي.

**1.2فعالیت: د ملا امامانو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځه کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د دایچوپان ولسوالۍ د پوهنې آمریت تر چتر لاندې یو باب کورس د ملا امام په وسیله رامنځته شوی دی.

**1.3فعالیت: د کوچیانو لپاره د قراردادي ښوونکو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځته کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د دایچوپان ولسوالۍ د پوهنې آمریت تر چتر لاندې یو باب کورس د کوچیانو لپاره رامنځته شوی دی.

### ۲.۵.۱۴ لومړیتوب: خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو ته جواز ورکول، اعتبار ورکول او پراختیا

**1.1فعالیت: په ټول هېوادکې د خصوصي ښوونځیو او خصوصي ښوونیزو مرکزونو تأسیسول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري په مرکز قلات کې یو خصوصي ښوونځی د «آرین نظري» په نوم تاسیس شوی دی. سربېره پر دې، په مرکز قلات او شاه جوی ولسوالیو کې دوه نوي کورسونه رامنځته شوي دي، او په مرکز قلات کې د یو بل کورس د جوړېدو چارې هم په جریان کې دي. همدارنګه، د دوه نورو کورسونو («میر ویس خان نیکه» او «افغان ساینسي علومو») د جوازونو د تمدید چارې روانې دي. د نوي ښوونځیو د تاسیس په موخه تر اوسه کومه مراجعه نه ده شوې.

**1.2فعالیت: له لومړنی څخه منځنی او له منځنی څخه لیسې ته د خصوصي ښوونځیو لوړول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، تر اوسه کومې خصوصي اداري له لومړنی څخه منځنی او له منځنی څخه لیسې ته د خصوصي ښوونځیو د لوړولو لپاره رسمي غوښتنه نه ده کړې.

## 2.6 د ټولنې ګډون

### ۲.٦.۱ لومړیتوب: د ولسوالیو او ولایتونو په کچه د ملي ورځو په مناسبت د سپورتي جشنوارو جوړول

**۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د ملي ورځو په مناسبت د ورزشي جشنوارو جوړول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د ملي ورځې په مناسبت باندې د زده کوونکو لخوا د اسد په 24م نېټه باندې سپورتي جشنواره ترسره شوې ده.

### ۲.٦.۲ لومړیتوب: د سواد زده کړې په برخه کې د تعلیمي نظام د پراختیا لپاره د ټولنې ګډون راجلبول

**1.1فعالیت: د مرکزي، ولایتي، ولسوالیو او تعلیمي مرکزونو په کچه د سواد زده کړې پروګرامونو لپاره د سرچینو د بسیج کولو لاربښوونو لاربښوونه او پلي کول.**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د سواد زده کړو ریاست له لوري د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د سواد زده کړې د پروګرامونو لپاره د سرچینو د بسیج کولو په مورد کوم لارښود نه دی رالېږل شوی.

**1.2فعالیت: د سواد زده‌کړې برنامو د ښه تطبیق لپاره د ملي او محلي سرچینو پېژندنه، جلب، جذب او ملاتړ**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړو مدیریت له لوري د سواد زده کړو پروګرامونو د غوره تطبیق په موخه په کلیو کې 18 کمېټې، په ولسوالیو کې 11 کمېټې غونډېږي، او په کلیو کې 82 د سواد زده کړو جلسې جوړې شوې دي. په ولایت کې د دغو کمېټو جلسې د غړو د نه همغږۍ له امله او د ملي او محلي سرچینو د مالي ملاتړ نشتوالي له امله تر اوسه پورې مالي مرسته نه ده ترلاسه شوې.

**1.3فعالیت: د ځایي خلکو له لوري د نمونه سواد زده‌کوونکو، ښوونکو او کارکوونکو مادي او معنوي هڅول.**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د سواد زده کړې 90 تنه زده کوونکي په مادي او معنوي ډالیو باندې ستایل شوي دي.

### 2.7 مدیریت

## ۲.۷.۱ لومړیتوب: د هغو زده‌کوونکو لپاره د ښوونې او روزنې زمینه برابرول چې له هېواده بهر په افغاني او غیر افغاني ښوونځیوکې د زده‌کړې د ادامې غوښتونکي دي

**1.1فعالیت: د زده‌کوونکو د ترانسکرپټ ترتیبول او ښوونیزو سوابقو پراوونو تېرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د ترانسکرپټ او ښوونیزو سوابقو د ترلاسه کولو په منظور چا مراجعه نه دی کړې.

## ۲.۷.۲ لومړیتوب: په ښوونځیو کې د ښاروندوی او ښارنجونو د ټیمونو د نظم ښارنه او بیاکتنه

**1.1فعالیت: د ښوونځیو د دسپلین له نظم څخه ښارنه او د مرکز او ولایتونو د ښاروندوی او ښارنجونو د ټیمونو د فعالیت څېړنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د مرکز قلات د پوهنې آمریت اړوند په بي بي خالا، شیخ متي بابا، شاه مردان، سور غر، چونې، ترنک امارتي، ترنک خصوصي، ارین نظري خصوصي . دارالعلوم، چهل دختران، نسوان رساله، نسوان ملالۍ، رحمن مینه، څلورم نمبر او همدارنګه سینک ابتدائیه ښوونځی کې د ښاروندوی او ښارنجونو د ټیمونو د نظم څخه ښارنه او بیا کتنه ترسره شوې ده.

## ۲.۷.۳ لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو په کچه د ښاروندوی او ښارنجونو د ترویونو د رامنځته کولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

**1.1فعالیت: د ښاروندوی لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د ښوونځیو په کچه د ښاروندویو او ښارنجونو د ټیمونو د رامنځته کولو او فعالولو لپاره لارښود ترتیب شوی او دغه لارښود د مرکز قلات پوهنې آمریت اړوند ترنک، بي بي خالا، چونې او شا مردان لېسو کې تطبیق شوی دی.

## ۲.۷.۴ لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د ترافیک ښاروندوی د ټیمونو د رامنځته کولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

**1.1فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري په ښوونځیو کې د ترافیک ښاروندوی ټیمونو د رامنځته کولو په موخه لارښود مرکز قلات او د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لیږل شوی دی.

## ۲.۷.۵ لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د ښاروندوی د اطفائیې ټیمونو د رامنځته کولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

**1.1فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري په ښوونځیو کې دښاروندوی د اطفائیې ټیمونو د رامنځته کولو په موخه لارښود مرکز قلات او د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لیږل شوی دی.

## ۲.۷.٦ لومړیتوب: د راپورونو شننه او توحیدول او له اړوندو مراجعو سره یې شریکول

**1.1فعالیت: د ولایتي ترسره شوو راپورونو ترلاسه کول، توحید، شننه او وړاندې کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند ټولو مدیریتونو څخه د حمل، ثور، جوزا، سرطان، اسد او سنبلې، میزان، عقرب ، قوس، جدي او دلو د میاشتې راپوروونه ترلاسه شوي چې د تحلیل او توحید څخه وروسته د اړونده مرجع سره شریک شوي دي.

## ۲.۷.۷ لومړیتوب: د ښوونځي په کچه د مخدره توکو د زیانونو پوهاوی ورکول

1.1فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو په کچه د مخدره توکو د زیانونو او استفادې پر ضد د پوهاوي ورکولو د پیغامونو ترتیب او چمتوکول

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د مرکز قلات په شپږو لېسو، اوو متوسطه ښوونځیو او دوو خصوصي ښوونځیو کې (شیخمتي، ترنک، شاه مردان، ترنک خصوصي، اووم نمبر، رحمن میني، کاکړانو متوسطه، شهرنو، چهل دختران، څلورم نمبر،خرواریان کوچیانو، ابن سینا خصوصي،سورغر او چونۍ) کې د مخدره موادو د زیانونو په اړه عامه پوهاوی ورکړل شوی، ترڅو زده کوونکي د یادو موادو له ناوړه اغېزو څخه خبر او خوندي پاتې شي.

## ۲.۷.۸ لومړیتوب: په مرکز او ولایتونوکې د ساینس مرکز د علمي غړو د خالي بستونو استخدام

1.1فعالیت: د علمي کادر د منظورې شوې مقررې مطابق د علمي غړوګمارل

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې یاد فعالیت د مرکز ساینس ریاست پورې تړاو لري.

## ۲.۷.۹ لومړیتوب: په تعلیمي مرکزونو کې د لابراتوارو او کمپیوټرلبونو چارو ملاتړیزه څارنه

1.1فعالیت: د امارتي او خصوصي ښوونیزو مرکزونو د لابراتوار او کمپیوټرونو له چارو څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري په مرکز قلات کې د ۸ ښوونځیو د لابراتوارونو څخه په تکراري ډول څلور ځله حمایوي څارنه ترسره شوې ده. دشاجوی ولسوالی ۴ لیسو ، دشنکۍ ولسوالی د ۱ لیسې او ترنک وجلدک ولسوالی د ۱ لیسې د لابراتوارونو څخه یو ځل حمایوي څارنه ترسره شوې ده. همدارنګه، د مرکز قلات د پوهنې آمریت تر چتر لاندې د ۱۰ مدرسو څخه د ساینسي مضامینو د نصاب د څېړنې په موخه لیدنې شوې، چې په اړتیا سره ممد مواد ورکړل شوي دي. برسېره پر دې، د هغو دوه ښوونځیو چې لا تر اوسه لابراتوارونه نلري، د رشتې خلاف ښوونکو د ستونزو د حل په موخه هم لیدنې ترسره شوي دي.

## ۲.۷.۱۰ لومړیتوب: د ښوونکو، سرښوونکو او تعلیمي مرکزونو د تدریسي پروسې ملاتړ کوونکی لیدنه او څارنه او د مرکزي او ولایتي مسلکي پراختیایي ټیمونو د فعالیت پلي کول ډاډمن کول

1.1 فعالیت: دمرکزي هستې ښوونکو د روزنې او د ولایتونو مسلکی او پراختیا د مسؤلینو ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د علمي غړو له لوري د شینکۍ ، شاجوی او میزانې ولسوالی د علمي غړو له ټیم څخه نظارت تر سره شوی دی.

1.2فعالیت: د عمومي زده‌کړو او حیاتي سواد له ښوونځیو او سواد زده‌کړې له کورسونو څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري په مرکز قلات، شاه جوی، شنکۍ، سیوري، مېزانه، نوبهار، ترنک و جلدک، دایچوپان، خاک افغان، اطغر، شملزایی او ارغنداب ولسوالیو کې له128 ښوونځیو څخه 458 ځله او29 کورسونو څخه 66 ځله د سواد زده کړې کورسونو څخه حمایوي/ ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده. همدارنګه، په زابل ولایت کې د سواد حیاتي زده کړو ښوونځۍ شتون نلري.

1.3فعالیت: د ښوونیزکال په بهیرکې لږترلږه څلور ځلې د رشتې مطابق د ښوونکو د تدریس د جریان لیدنه

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په مرکز قلات، مېزانه،خاک افغان، شاه جوی، شنکۍ، سیوري، مېزانه، اطغر، نوبهار، ترنک و جلدک، شملزایی او ارغنداب ولسوالیو کې د رشتې مطابق678 تنه ښوونکو څخه 1114 ځله له درسونو څخه لیدنه ترسره شوې ده.

1.4فعالیت: په ښوونیزکال کې لږترلږه څلور ځلې د سرښوونکو او مدیرانو د مسلکي کارکړنو د بهیر لیدنه

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په مرکز قلات، شاه جوی، شنکۍ، سیوري، مېزانه، نوبهار، ترنک و جلدک، شملزایی او ارغنداب ولسوالیو کې د 73 تنو سرښوونکو او 111 تنو مدیرانو د مسلکي کاري کړنو له بهیر څخه په تکراري ډول لیدنه ترسره شوې ده.

1.5فعالیت: په ولایتي کچه د ترسره شوو څارنو او لیدنو د علمي راپورونو شننه، توحید او وړاندې کول؛

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمريت د توحيد او انسجام مديريت له لوري د حمل، ثور، جوزا، سرطان، اسد ، سنبلې، ميزان، عقرب ، قوس، جدي او دلوې مياشتې د څارنو او ليدنو علمي راپورونه ترتيب او د بعدي اجراآتو په موخه اړونده مرجع سره په خپل وخت شريک شوي دي.

### ۲.۷.۱۱ لومړيتوب: په شرايطو برابرو ماشومانو د شموليت له بهير څخه ملاتړيزه څارنه

1.1 فعاليت: په ښوونيزو مرکزونوکې په شرايطو برابرو ماشومانو د شموليت له بهير څخه ملاتړيزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمريت له لوري په مرکز قلات، شاه جوی، شنکی، سيوري، مېزانه، نوبهار، ترنک و جلدک، شملزايي او ارغنداب ولسواليو کې د ۱۲۳ بابه ښوونځيو د شرايطو برابر ماشومانو د شموليت له بهير څخه حمايوي څارنه ترسره شوې ده.

### ۲.۷.۱۲ لومړيتوب: د خصوصي ښوونځيو د قانوني او باکيفيته فعاليت لپاره د زمينې رامنځته کول

۱.۱ فعاليت: د خصوصي ښوونځيو د ستونزو او شخړو څېړنه

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، ياد فعاليت نه دی ترسره شوی، ځکه چې نوموړی فعاليت د خصوصي زده کړو رياست پورې اړه لري.

### ۲.۷.۱۳ لومړيتوب: ستونزو ته رسيدگي، تصديق‌ليکونو ته اعتبار ورکول او د خاصو معلوماتو راټولول

1.1 فعاليت: په خصوصي ښوونځيو او ښوونيزو کورسونوکې د زده‌کوونکو د چارو ستونزو ته رسېدنه

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، ياد فعاليت نه دی ترسره شوی، ځکه چې نوموړی فعاليت د خصوصي زده کړو رياست پورې اړه لري.

1.2 فعاليت: په ډېټابس کې د خصوصي کورسونو د زده‌کوونکو د تصديق‌ليکونو ثبتول او اعتبار ورکول

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د خصوصي زده کړو د فرصت ښوونيز مرکز، شمشاد حکيمي او هواد اکاډمي د 186 تنو فارغينو تصديق پاڼې د ثبت په کتاب کې ځای پر ځای شوي دي.

### ۲.۷.۱۴ لومړيتوب: په خصوصي ښوونځيو کې د تدريس کيفيت ښه کولو لپاره زمينه برابرول

۱.۱ فعاليت: په مرکز او ولايتونوکې د خصوصي ښوونځيو او ښوونيزو مرکزونو بېلګه‌ايزکنټرول

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، ياد فعاليت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د خصوصي زده کړو رياست له لوري ټيم زابل ولايت ته نه دی راغلی، ترڅو د خصوصي ښوونځيو او ښوونيزو مرکزونو بيلګه ايز کنټرول ترسره کړي.

## برنامه 3: تضمين کيفيت

### ۳.۱ مديريت

### ۳.۱ لومړيتوب: د احصائيې دقيق راټولول، چمتوکول او شريکول او احصائيوي ارقاموته د ادارو آسانه لاسرسی

1.1فعاليت: د احصائيې او معلوماتو د راټولولو وروستي کول، د ۱۴۰۴ کال د احصائيې او معلوماتو راټولول، د احصائيوي فورمونو ډک کول د معلوماتو د مديريت په سيستم کې د معلوماتو ثبتول (EMIS).

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د کيفيت د تضمين آمريت اړوند احصائيې عمومي مديريت له لوري د مېزانې ولسوالۍ پرته ټولو ۱۱ ولسواليو ته 675 احصائيوي فورمې چاپ او توزيع شوي دي، چې له دې جملې څخه 602 فورمې ډکې شوې، 602 راټولې شوې او 687 پاڼې يې په سيستم کې هم ثبت شوي دي.

1.2فعاليت: د ۱۴۰۵کال د احصائيوي ارقامو يا Data cleaning پاک کول

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د کيفيت د تضمين آمريت اړوند احصائيې عمومي مديريت له لوري د مرکز قلات په شمول د ټولو ولسواليو د پوهنې آمريتونو پورې تړلې د ښوونيزو مرکزونو 40 فيصده Data cleaning ترسره شويده.

1.3فعاليت: د۱۴۰۴کال د هېواد د ښوونيزو بنسټونو د ارقامو تأييد او تصديق

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د کیفیت د تضمین آمریت اړوند احصائیې عمومي مدیریت له لوري د مرکز قلات، شینکی، سیوري، نوبهار، او شملزائي ولسوالیو د پوهنې آمریتونو تر چتر لاندې د 16 بابه ښوونیزو مرکزونو د احصائیوي ارقامو تائید او تصدیق ترسره شویده.

**1.4فعالیت: د احصائیې په برخه کې د اسلامي زده‌کړو د بنسټونو د مسؤولینو ظرفیت لوړول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د احصائیې ریاست له لوري کوم ټیم نه دی راغلی، تر څو د اسلامي زده کړو د بنسټونو مسئولینو د ظرفیت لوړولو لپاره ورکشاپ په لاره واچوي.

**1.5فعالیت: د پوهنې د معلوماتو د مدیریت د نوي سیستم پلي کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې تر اوسه پورې د احصائیې ریاست له لوري نوی سیستم نه دی راته ترتیب شوی.

**1.6فعالیت: د جدیدالتأسیسو، مدغم شوو او د ځای بدلون موندلو ښوونیزو بنسټونو د مختصاتو راټولول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د کیفیت د تضمین آمریت اړوند احصائیې عمومي مدیریت له لوري د مرکز قلات او شاه جوی ولسوالۍ د 4 بابه نویو تاسیس شویو ښوونیزو مرکزونو مختصات راټول شوي دي، همدارنګه د مرکز قلات او شاه جوی ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند د 5 بابه نویو تاسیس شویو ښوونیزو مرکزونو فورمې په جي ای ایس سیستم کې ثبت شوي دي.

## ۳.۲ لومړیتوب: د ۱۴۰۴کال د لومړیتوبونو او عملیاتي پلان له تطبیق څخه څارنه او ډاډ ترلاسه کول؛

**1.1فعالیت: د ولایتونو د پوهنې د ۳۵ ریاستونو او همکارو مؤسسو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه او د سپارښتنو تعقیبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې محترم وزارت د څارنې او ارزونې ریاست څخه د راغلي څارنیز ټیم له لوري د زابل ولایت د پوهنې ریاست د ۱۴۰۴ کال د لومړیتوبونو او عملیاتي پلان د تطبیق څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه څارنه ترسره شوه او همدارنګه د پوهنې ریاست د څارنیز ټیم له لوري هم د مرکزي هستې د آمریتونو اړوند د عمومي مدیریتونو څخه د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه ترسره شوې ده.

**1.2فعالیت: د ولسوالیو د پوهنې د آمریتونو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې محترم وزارت د څارنې او ارزونې ریاست څخه د راغلي څارنیز ټیم د زابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د شنکی، مرکز قلات، مېزانې او همدارنګه د سیوري ولسوالۍ د پوهنې آمریت د ۱۴۰۴ کال د لومړیتوبونو او عملیاتي پلان د تطبیق څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه څارنه ترسره او راپور یې لاهم نده رالیږل شوی، او همدارنګه د پوهنې ریاست اړوند د څارنې او رزونې مدیریت له لوري د مرکز قلات او شپږ بابه  ولسوالیو د پوهنې آمریتونو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه ترسره شوې ده.

**1.3فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې وزارت د څارنې او ارزونې ریاست څخه د راغلي څارنیز ټیم له لوري د مرکز قلات، سیوري، شنکی او همدارنګه د مېزانې ولسوالۍ د پوهنې آمریتونو تر چتر لاندې د9 بابه ښوونیزو مرکزونو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه ترسره  ولې راپور یې لا هم نده رالیږل شوی ، او همدارنګه د پوهنې ریاست اړوند د څارنې او رزونې مدیریت له لوري د مرکز قلات او شپږ بابه ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند 119 بابه ښوونیزو مرکزونو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه ترسره شوې ده.

## ۳.۳ لومړیتوب: د پوهنې وزارت په بېلابېلو کچوکې د راپور ورکولو د سیستم پرمختیا، پلي کول او ښه‌والی

**1.1فعالیت: د لومړیتوبونو/ عملیاتي پلان په اساس د راپور ورکولو د آنلاین سیستم اصلاح، تجدید او پلي کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د څارنې او رزونې ریاست اړوند راپور ورکولو آمریت له لوري د لومړیتوبونو/ عملیاتي پلان په اساس د راپور ورکولو آنلاین سیستم په زابل ولایت کې فعال شوی.

**1.2فعالیت: د ولسوالیو، ولایتونو او مرکز څخه د عملیاتي پلانونو د تطبیق میاشتني راپورونه راټولول**
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د څارنې او ارزونې مدیریت د راپورونو د تحلیل او توحید غړو له لوري د مرکز قلات او ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو څخه 99 میاشتني راپورونه راټول شوي دي چې د راپورونو په انلاین سیستم کې د انټري پروسه یې لاهم دوام لري.

**1.3فعالیت: د ولسوالیو، ولایتونو او مرکز څخه د عملیاتي پلانونو د تطبیق ربعوار راپورونه راټولول**
